## غارت
په قهر او غلبه د بل چا د مالونو او محصولاتو تلفول دي.
دری:[غارت]

## غاصب
هغه شخص ته ويل کېږي چې د نورو ملك، شتمني او حقوق پرته له شرعي او قانوني مجوز څخه په علني توګه خپل تصرف لاندې راوستی وي چې د مالك تصرف ئې منقطع ګرځولی وي. دری: [غاصب]

## غالب ظن
هغه دی چې د ثبوت او نفې له لحاظه پر تعيين کې قريب (نږدې) وي. دری:[ظن غالب]

## غايب
په عمومي توګه هغه شخص ته ويل کېږي چې د هغې/هغه په نشتوالي کې د هغې/هغه ځينی حقوق او وجايب نه اجراء کېږي. دری: [غايب]

## غايبانه مالکيت
د ملکيت له موقعيت څخه د مالکينو د اقامت بېلوالی دی پدې شرط چې له خپل ملکيت څخه ګټه ترلاسه کړي.
دری: [مالکيت غايبانه]

## غايه
نهائي هدف. دری: [غايه]

## غبن
هغه زيان دی چې د عقد يوه خوايې د عقد د انعقاد پرمهال د نه مهارت په در لودلو سره زغمي او هغې ته په پاملرنې سره د عقد د دواړو خواوو په وجايبو کې چې يو د بل په وړاندې يې لري، د تعادل او توازن يو ډول نشتوالی منځ ته راځی. دری:[غبن]

## غدر
د عامه خدمتونو د مؤظفينو له خوا د هغه ټکټ پولی او مصارفو اخيستل دي چې له قانوني حد څخه زيات وي.
دری: [غدر]

## غرامت
هغه څه چې د زيان د جبيرې له امله ورکول کېږي (نقدي او غير نقدي)، غرامت دی. دری:[غرامت]

## غرر
د عقد د انعقاد په وخت کی د فريب ورکوونکي په ګټه د يو چاغولول. دری: [غرر]

## غرق
د تنفسي مجرا له لیارې د اوبو داخلېدل دي چې د تنفس عمليه له ستونزو سره مخامخ کوي او د مړينې لامل ګرځي. دری: [غرق]

## غره
هغه مالي جزاء چې فقهيان هغه د زر دينارو په اندازه مني. دری: [ غره]

## غش
د بيعې په عقد کې د بيکارو شيا نو وړاندې کول او يا له مبيعې سره د هغو له يو ځای کولو څخه عبارت دی.
دری: [غش]

## غصب
پرته له قانوني اجازې په ښکاره ډول د بل چا د محتوم او متقوم مال ترلاسه کولو ته غصب ويل کېږي.
دری:[غصب]

## غضبان طلاق
هغه طلاق دی چې د غضب او عصبانيت په مهال رامنځ ته شوی وي. دری:[طلاق غضبان]

## غفلت
هغه اهمال او بی پروايي چې منتج په نه اجرا کولو د هغه څه شی چې شخص يې په اجرا کولو مکلف دی.
دری: [غفلت]

## غلا شوی مال

هغه مال ته ویل کیږي چې د غلا د جرم د ارتکاب په پایله کې لاس ته راغلی وي. دری:[مال مسروقه]

## غلت

هغه ګټه چې د موصي د وفات په وخت کې موجوده وي، او یا د موصي له د ژوند په وخت کې منځ ته راغلی وي. دری: [غلت]

## غوښتنه (مطالبه)

عبارت دی د داین غوښتنه له مدیون څخه د تعهداتو د اجرأ په اړوند. دری: [مطالبه]

## غونډه

د یوې یا څو څانګړو موضوع ګانو په اړه د څو تنو حقیقي او یا حکمي شخصیتونو د استازو له ناستې څخه عبارت ده. دری: [جلسه]

## غیر مترقبه حادثه

هغې حادثې ته ویل کیږي چې په عادي حالت کې د هغې د واقع کېدلو هیله نه وي. دری: [حادثه غیر مترقبه]

## غیر معین قصد

له هغه قصد څخه عبارت دی چې فاعل پر یوه معین شخص د تیري قصد نلري بلکی د ده د فعل په پایله کې ګڼ شمېر غیر معین اشخاص په قتل رسیږي او یا صدمه مومي. دری: [قصد غیر معین]

## غیر مملوکه مواد

هغه ساختماني مواد چې د بل شخص ملکیت وي. دری: [ مواد غیر مملوکه]

## غیابي حکم

هغه حکم ته ویل کیږي چې د خصم پر ضد په محکمې کې پرته د هغه له حضور څخه د قانون له احکامو سره سم ترسره شوی وي. دری: [حکم غیابی]

## غیر ارادي افلاس

هغه افلاس ته ویل کیږي چې د داین د غوښتنې په پایله کې چې غواړي د مدیون معاملات تصفیه شي، رابرسېره کیږي. (افلاس ته دې مراجعه وشي).
دری:[افلاس غیر ارادی]

## غیر افغاني اموال

هغه مالونه دي چې د افغانستان د منشاء په توګه نه ګڼل کیږي او د هغه په قلمرو کښې په بشپړه توګه استحصال او تولید شوی نه وي. دری:[اموال غیر افغانی]

## غیر توحیدي بودجه

هغه غیر توحیدي وجوه دي چې د نړیوالو سازمانونو د پولي مرستې او بهرنیو او دولتي مساعدتو د تخمین چې د قانون له حکمونو سره سم د مرکزي بانک د توحیدي وجوهو کې نه وي. دری: [بودجه غیر توحیدی]

## غیر ثابته واقعه

هغه واقعه ده چې د هغې د اثبات یا نسبت و متهم ته دلیل نه وی. دری: [واقعۀ غیر ثابته]

## غیر رسمي وصیت نامه

هغه وصیت نامه چې موصي هغه خپله لیکلی او لاسلیک کړی وي. (موصي ته دې مراجعه وشي)
دری: [ وصیت نامه غیر رسمی]

## غیر شرعي دخول (غیر مجوزه دخول)

له یوې ښځې سره د شخص له حقیقي آمیزش څخه عبارت دی چې د قصد او یا شبهې له مخې صورت ومومي او په شرعي او قانوني توګه روا او مجاز نه وي.
دری: [دخول غیر شرعی (غیر مجوزه)]

## غیر ظاهر منفعت

هغې ګټې ته ویل کیږي چې څرګنده نه وي او د مدیون له خوا د نقدي دین د ورکړې د تأخیر په صورت کې د داین له خوا د خسارې د جبران د ادعا په صورت کې په قانوني توګه د اعتبار وړ ګرځېدلای نشي.
دری: [منفعت غیر ظاهر]

## غیر عمدي جرایم
عبارت دي له هغو جرایمو څخه چې د عمل په ارتکاب او یا امتناع کښې جرمي قصد په صریحه او مستقیمه توګه څرګند نه وي. دری: [جرایم غیر عمدی]

## غیر عمدي قصور
هغه کوتاهي او بې پروایي ده چې د یو تعهد په سرته نه رسولو کې ئې د شخص له ارادې او قصد څخه بهر اسبابو سره صورت موندلی وي.
دری: [قصور غیر عمدی]

## غیر عیني عقد
داسې عقد چې د صیغې د رسم له جاري کېدو سره یوځای، پرې حقوقي پایله او اغیزه ترتیب مرتب کېږي.
دری: [ عقد غیر عینی]

## غیر قانوني حبس
د اشخاصو له توقیفولو او حبسولو څخه عبارت دی چې د ذیصلاح مقامونو د حکم پرته ترسره شوي وي.
دری:[حبس غیر قانونی]

## غیر قانوني حیله
له هغه عمل څخه عبارت دی چې د عمل فاعل د تقلب قصد لري او موخه او مقصد یې د یوې ناقانونه پایلې ترلاسه کول وي. دری:[حیله غیر قانونی]

## غیر قانوني رقابت
عبارت له هغه حالت څخه دی چې سوداګر یا تجارتي شرکتونه د نورو سوداګرو یا تجارتي شرکتونو په وړاندې په غیر قانوني فعالیتونو لاس پورې کړي.
دری: [رقابت غیر قانونی]

## غیر قضائي اعتراف
هغه اعتراف چې د کشف او تحقیق د ارګانونو په وړاندې د محکمې څخه بهر صورت مومي.
دری:[ اعتراف غیر قضایی]

## غیر لګښتي جنسونه
هغه چې د را ټولولو قابلیت لري او د هغو بیه د قانوني نصاب له (۱۰۰) افغانیو، څخه لږه نه وي.
دری: [اجناس غیر مصرفی]

## غیر مؤقت اذن
هغه اجازه ده چې د ټاکلې مودې لپاره یې صورت موندلی نه وي. دری:[اذن غیر مؤقت]

## غیر مادي جرمونه
پر هغو جرمونو باندې اطلاق کېږي چې د هغو تحقق د نتیجې د لاسته راوړلو پورې مقید نه وي او خپله هغه د جزا وړ وی. دری:[جرایم غیر مادی]

## غیر مادي جرم
پر هغه جرم اطلاق کېږي چې د هغه تحقق د مادي نتیجې پورې مربوط او مقید نه وي او هغه په خپله د جزاګانو وړ وي. دری:[جرم غیر مادی]

## غیر مالي حقوق
هغه حقوق دي چې مالي ځانګړتیا نلري بلکې موخه یې د انسان د عاطفي او اخلاقي اړتیاوو پوره کول دي.
دری:[حقوق غیر مالی]

## غیر مالي دعوی
هغه دعوی ده چې موضوع یې د غیر مالي حقوقو غوښتنه وي. دری: [دعوی غیر مالی]

## غیر مبیت نیت
هغه نیت چې جاني جرمي فعل د عاطفې یا آني غضب تر تأثیر لاندې سرته رسوي. دری: [نیت غیر مبیت]

## غیر مترقبه حوادث (پیښې)
هغه پیښې چې د هغه په رامنځ ته کېدو کې د انسان اراده هیڅ دخالت نلري او نه د هغو د مخنیوی وس لري.
دری: [حوادث غیر مترقبه]

## غیر مترقبه سبب
هغه سبب دی چې له مخکې څخه د هغه د واقع کېدلو هیله شتون ونه لري. دری: [سبب غیر مترقبه]

## غیر مترقبه لاملونه
هغو لاملونو ته ویل کیږي چې د هغوی رامینځ ته کېدل له مخکې وړاند وینه شوي نه وي.
دری: [اسباب غیر مترقبه]

## غیر مثلي اعیان
له هغو مالونو او املاکو څخه عبارت دی چې د هغو بل ساری او مانند پیدا نشي. دری: [اعیان غیر مثلی]

## غیر محصود
هغه کرنیز حاصلات دي چې لو شوي نه وي.
دری: [غیر محصود]

## غیر محصور شمېر باندې وصیت
هغه وصیت دی چې د نا مشخصو افرادو لپاره ئې صورت موندلی وي. دری: [وصیت به عدأ غیر محصور]

## غیر مستقیم تهدید
هغه تهدید چې د هغې وضعې تمثیل کوونکی دی چې په متهم کې ډاډار او وېره پیدا کوي.
دری:[تهدید غیر مستقیم]

## غیر مستقیم دلیل
هغه دلیل دی چې د هغه او هغی واقعې تر منځ چې تر نظر لاندې وي یو فاصل او رابط وجود لري.
دری: [دلیل غیر مستقیم]

## غیر مستقیم قرابت
د اشخاصو ترمینځ هغه قرابت دی چې د یو مشترک اصل په درلودلو سربېره، یو د بل فرع نه دي.
دری: [قرابت غیر مستقیم]

## غیر مشروط طریقه
هغه چلند چې د شریعت، اساسي قانون او عادي قانون مخالف وي او همدارنګه د جزائي محاکماتو د عمومي پرنسیپونو مخالف اوسي. دری:[طریقه غیر مشروع]

## غیر مشروع استعمال
د انتفاع په یو عقد کې د شیانو او املاکو هغه ډول استعمالولو ته ویل کیږي چې شرعي او قانوني مشروعیت ونه لري. دری: [استعمال غیر مشروع]

## غیر مشروع قتل
هغه وژنه ده چې له قانوني او شرعي مبرر او مجوز نه بغیر صورت ونیسي. دری: [قتل غیر مشروع]

## غیر مشهود جرمونه
له هغو جرمونو څخه عبارت دي چې د خلکو په مخکې یې ارتکاب نه وي موندلی او د هغو له ارتکاب څخه یوه موده تېره شوې وي او د هغو د دلایلو لاسته راوړل معلوم نه وي. دری:[جرایم غیر مشهود]

## غیر مطبوع (سپینه یا غیر رسمي) عریضه
هغه پاڼه ده چې کومه خاصه قانوني مشخصه نلري او عارض کولای شي ځینو مراجعو ته یې د خپل حق د ترلاسه کولو لپاره وړاندې کړي.
دری: [عریضه غیر مطبوع (سفید یا غیر رسمی)]

## غیر معینه ورثه
هغه ورثه ده چې د وصیت په جریان کې د موصي له خوا د هغې د ورثې لپاره چې وصیت ورته کوي د وصیت د کچې د تعیینولو لپاره ځانګړې شوې نه وي.
دری: [ورثه غیر معین]

## غیر مقدر ارش
د مال هغه ورکړه ده چې د اندازې په اړوند یې شرعي او قانوني نص موجود نه وي بلکه د اندازې تعیین د قاضي له صلاحیت څخه وي. دری: [ارش غیر مقدر]

## غیر ممیز صغیر

هغه شخص چې تر (۷) کلونو یې عمر کم وي، غیر ممیز صغیر دی. په بل عبارت هغه شخص چې ونه کولای شي ترڅو د معاملو د ترسره کولو پر مهال خپله ګټه او تاوان وپیژني، غیر ممیز صغیر دی.

دری:[صغیر غیر ممیز]

## غیر ممیز طفل

هغه شخص ته ویل کېږي چې د اوه کلنی عمر ئې نه وي بشپړ کړی. دری:[طفل غیر ممیز]

## غیر منقول مالونه

هغه مالونه دي چې انتقال او لېږدونه یې امکان ونلري خو که چېرې امکان پیدا کړي، ماهیت ته یې زیان رسېږي.

دری:[اموال غیر منقول]

## غیر منقوله دعوی

هغه دعوی ده چې موضوع یې د غیر منقول مال غوښتنه او د هغو د حقوقو لاسته راوړل وی.

دری: [دعوی غیر منقول]